۰۷ لاربنود

# د دوه اړخيزو او يا څو اړخيزو تړونونو له مخې دمالياتي معافيت د ترلاسه کولو لپاره درخواست کول

منل خدمت | ډاډ

اطاعت پذيری | خدمت | اطمينان

Compliance | Service | Making Sure

## سریزه :

ځیني وختونه د افغانستان اسلامي جمهوریت له نورو هیوادونو او یا نړیوالو ادارو سره یو سلسله تړونونه لاسلیک کړي چې په راتلونکي کې به هم د دغه ډول تړونونو لاسلیکولو ته دوام ورکړي . کیدای شي چې دغه ډول تړونونه پر هغو عوایدو باندې دمالیې وضع کول تر اغیز لاندې راولي چې د ځانګړو فعالیتونو څخه لاس ته راغلي دي . دافغانستان ددولت دغه دوه اړخیزه یا څو اړخیزه تړونونه به د ۱۳۸۷ کال پرعایداتوباندې دمالیاتو پرقانون باندې مخکې توب ولري. (۱۱۱ ماده) د دغه لارښود موخه داده چې هغو دولتي مؤسسو، ادارو ، قراردادکوونکو او فرعي قرارداد کوونکوته چې ګمان کوي د دوه اړخیزو او یا څو اړخیزو تړونونو له مخې له مالیې څخه معاف دي خبرورکړل شي چې د خپلو هغوسوداګریزو فعالیتونو د مالیې په هکله چې په افغانستان کې یې ترسره کوي د مالیې له وزارت، دعوایدو دلوی ریاست څخه د خصوصي طرزالعمل غوښتنه وکړي.

## ددرخواست کولو پروسه

له مالیې دوزارت دعوایدو لوی ریاست څخه د ددوه اړخیزه یا څو اړخیزه تړون له مخې دمالیې څخه دمعافیت دموجودیت په صورت کې دتصدیق دترلاسه کولو لپاره ددرخواست پروسه لاندې درې مرحلې لري.

لومړۍ مرحله : د ټولو هغو دوه اړخیزو یا څواړخیزو قراردادونو فوتوکاپي باید ترلاسه کړئ چې ستاسو شرکت/ مؤسسې ته دهغې پربنسټ معافیت ورکول کیږي.

دقرارداد ورکوونکي څخه دهغو قراردادونو چې تاسې یې دعوایدو لپاره دمالیې څخه دمعافیت ادعا کوئ، یو مکتوب ترلاسه کړئ چې دقرارداد (قراردادونو) دجزئیاتو بیانوونکی وي ، دبیلګې په توګه دقرارداد نمبر(نمبرونه) او نیټه، دقرارداد مبلغ، په قرارداد کې د شاملې پروژې (پروژو) دبشپړتیا موده اوداسې نور، .

دوهمه مرحله : د لاندې معلوماتو سره یو ځای د ټولو اړوندو قراردادونو فوتوکاپي او د قرارداد ورکوونکي څخه ترلاسه شوی تائیدي مکتوب د مالیې وزارت دعوایدو لوي ریاست ته وسپارۍ :

- د خپل شرکت او یا مؤسسې مکمل نوم
- خپل د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر
- ستاسو له خوا هغه نومول شوی ارتباطي شخص چې ستاسو په شرکت او یا مؤسسې کې کارکوي چې دزیاتو معلوماتو دترلاسه کولو لپاره مونږ ورسره اړیکه ټینګه کړو او یا هم هغه د خپل ځواب څخه خبر کړو.
- په افغانستان کې ستاسو د شرکت یا مؤسسې د فعالیتونو سمون ( مطابقت ) له نړې والو تړونونوسره، په هکله خپل نظرڅرګند کړئ همدارنګه لاندې موضوعات هم روښانه کړې:
  - د پروژې کوم تړونونه او یا د مالي وجوه (فنډ) کوم ترتیبات په ذکر شویو نړې والو تړونونو کې شامل دي.
  - ستاسو په نظر ددې تړون له مخې د پرعایداتو باندې دمالیې کوم ځانګړي ډولونه معاف ګڼل کیږي.
- خپل حمایوي اسناد لکه د پروژې دتړونونو کاپي ،مالي وجوه دترتیباتو او قرارداد کاپي هم دمالیې وزارت دعوایدو لوی ریاست ته دسپارلو په موخه ضمیمه کړئ.ستاسو درخواست باید باید په دري یا پښتو ژبه کې وي.

په انګلیسې ژبه کې ددرخواست یو نقل به دپروسې په ګړندی کولو کې مرسته وکړي. په انګلیسي ژبه دحمایوي اسنادو ژباړولو ته اړتیا نشته. که چیرې نوموړي اسناد د پښتو ، دري او یا انګلیسي نه پرته په نورو ژبولیکل شوي وي، باید له دې ژبو څخه یوې ته وژباړل شي. ستاسې درخواست او حمایوي اسناد باید په لاندې پته واستول شي.

دمالیې وزارت دعوایدو لوی ریاست دمعافیتونو او طرزالعملونو آمریت دریمه مرحله : هر کله چې د مالیې وزارت دعوایدو لوی ریاست ټول اړوند اسناد ترلاسه کړل، نو کوښښ به وکړي چې په ځواب کې یې په ۲۱ تقویمي ورځو کې یو لیکلی طرز العمل صادرکړي. دغه خصوصي طرزالعمل به دا په ډاګه کړي چې کوم فعالیتونه له مالیې نه معاف دي ( که چیرې موجود وي ) او کوم ډول مالیه معاف ده (که چیرې موجوده وي ).د راپور ورکولو شرایط به هم په دغه طرز العمل کې څرګند کړل شي ترڅو ستاسو شرکت د افغانستان پرعایداتو باندې د مالیاتو له قانون څخه پیروې وکړي.

بیلګه: د جو) Joe (ساختماني شرکت د یو فرعي قرارداد کوونکي په توګه د )FGCNDP ( اداري لپاره او همدارنګه په افغانستان کې میشت نورو شرکتونو لپاره د خصوصي قرارداد له مخې کار ترسره کوي . د جو ( Joe ) ساختماني شرکت د FGCNDP له اداري سره تماس نیسي او هغه دوه اړخیز او څو اړخیز تړون کاپیاني ترلاسه کوي چې د افغانستان دولت او FGCNDP د اداري ترمنځ لاسلیک شوی دی ترڅو دد غو تړون له مخې د FGCNDP پروژې مالیه تربحث لاندې ونیسي. وروسته بیا د جو شرکت د مالیې وزارت دعوایدو لوی ریاست ته یو لیک استوي چې لاندې معلومات په کې لیکل شوي دي :

د شرکت نوم ، ( دجو ساختماني شرکت ) ، د شرکت د پیژندنې نمبر ( ۱۲۳۴۵۶۷۸۹ )، د بریښنا لیک پته او د ټیلفون شمیره ( bloggs@joe. com ۰۷۷۱۲۳۴۵۶ ۰ ) .

نوموړې اداره د لیک په ذریعه دمالیې وزارت نه غوښتنه کوي چې داسې یو خصوصي طرزالعمل ورته ترتیب کړي چې د FGCNDP پروژه د سهامي شرکتونو پر عایداتوباندې له مالیې ( پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون ۲ ماده) ، دانتفاعي معاملوله مالیې )۲۴ - ۲۷ مادې ( ،ددې اداري پرفرعي قراردادیانو باندې دقرارداد له موضوعي مالیه )۷۲ ماده) ، کرایې موضوعي مالیه )۵۹ ماده ( او دمعاشونو موضوعي مالیې څخه معاف وګڼل شي. د اسنادو د تقوې په موخه ، د لیک سره یوځای د FGCNDP اداري او افغانستان ددولت ترمنځ د ټولو تړونونو کاپي او د جو ساختماني شرکت او ددغې اداري ترمنځ د پروژې د تړون )قرارداد) ټولې کاپیانې او د FGCNDP د اداري له خواتائیدي مکتوب کاپي ضمیمه ده. )غوښتنلیک په دري ژبه او یو نقل په انګلیسي ژبه کې هم ضمیمه دی او حمایوي سندونه په انګلیسي ژبه کې دي).

## دماليې وزارت دعوايدو لوی رياست لخوا ځواب

## ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست په ليکلې توګه ځواب ورکوي چې متن يې په لاندې ډول دی:

- د FGCNDP له پروژې څخه لاسته راغلي عوايد لکه څنګه چې په ورکړل شوو اسنادو کې مشخص شوي دي د سهامې شرکتونو پر عايداتو باندې له ماليې او همدارنګه پر انتفاعي معاملو باندې له ماليې څخه معاف دي . د افغانستان د دولت او FGCNDP اداري ترمنځ د لاسليک شوي تړون د يوې مادې له مخې دغه عوايد له ماليې څخه معاف ګڼل کيږي.
- د جو ساختماني شرکت پر کرايي باندې د موضوعي ماليې پر وضع کولو او د افغانستان دمالياتو قانون د ۹ فصل مطابق د وضع شوي مبلغ پر تاديه کولو مکلف دی. څرنګه چې د جو شرکت د جايداد د خاوند په استازيتوب پر کرايې خدماتو باندې موضوعي ماليه وضع کوي ، نو ځکه نوموړې ماليه پر جو شرکت باندې مستقيمه ماليه نه ګڼل کيږي. بناََ د افغانستان د دولت او FGCNDP اداري ترمنځ لاسليک شوی تړون دجو شرکت د دغه مسؤليت څخه معاف نه ګڼي.
- د جو ساختماني شرکت پر خپلو فرعي قراردادیانو باندې د قرارداد دموضوعي ماليې پر وضع کولو او د افغانستان پرعايداتو باندې د مالياتو د قانون د ۱۱ فصل مطابق د وضع شوي مبلغ پر تاديه کولو مکلف دی . دقرارداد موضوعي ماليه دجو پرشرکت باندې ماليه نه ده بلکې په فرعي قراردادیانو باندې ماليه ده. بناََ د افغانستان د دولت او FGCNDP اداري ترمنځ لاسليک شوی تړون دجو شرکت د دغه مسؤليت څخه معاف نه ګڼي.

د جوشرکت نور ټول هغه عوايد چې د افغانستان په داخل کې يې د فعاليت د ترسره کولو څخه لاسته راوړي چې د افغانستان ددولت او FGCNDP ترمنځ په نړيوال تړون کې شامل نه دي، د افغانستان د مالياتو قانون تابع دي او د ماليې د تاديه کولو او راپور ورکولو په اړه په دغه قانون کې احکام موجود دي.

## دسوداګریز جواز نوي کول او دمالیاتي مکلفیتونو ادا کول

دیو خصوصي **طرزالعمل** دصدور موخه پرعایداتو باندې دمالیاتو دقانون په ځانګړې حالاتو کې د تطبیق په هکله دمالیې وزارت دعوایدو لوی ریاست ته دمعلوماتو وړاندې کول دي. دا "دمالیاتو څخه دمعافیت تصدیق لیک " نه دی.، که څه هم کله چې یونهاد خپل ټول فعالیتونه دخصوصي **طرزالعمل** په غوښتنلیک کې څرګندوي په دې صورت کې ددغه ډول تصدیق لیک حکم لري. همدارنګه دغه **طرزالعمل** د"مالیاتو څخه دمنښت تصدیق لیک" نه دی. ځکه چې یو خصوصي **طرزالعمل** داسې موضوعات چې ایا یو نهاد پرعایداتوباندې دمالیاتو قانون منلی دی اوکنه اویا ترکومه حده یې قانون منلی دی ، په برکې نه نیسي. هرکله چې یونهاد دجواز دنوي کولو لپاره دمالیې دوزارت رسمي مکتوب ته اړتیا ولري ، نوپه دې صورت کې باید دغه نهاد په کابل کې دمالیې د وزارت، دعوایدو لوی ریاست د لویو مالیه ورکوونکو دادارې سره اړیکه ټینګه کړي.

## ګمرکي محصول اونور مالیات

کومه پروسه چې پدې لارښود کې بیان شوې ده د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د احکامو پر اساس رامنځ ته شوې ده. نوله دې کبله پرعایداتوباندې دمالیاتو دموضوعاتو پورې محدود یو **طرزالعمل** دی او دنورو مالیاتو لکه د ګمرکي محصول په اړه نه صادریږي. هرکله چې یو نهاد د ګمرکي محصول دمعافیت په اړه وضاحت ته اړتیا ولري نو د مالیې وزارت د ګمرکاتوله ریاست سره دې په کابل کې اړیکې ټینګې کړي. دنورو مالیاتي موضوعاتو په اړه باید نوموړي نهاد اړوند دولتي ادارو سره اړیکې ټینګې کړي.

## تطبیقي حکمونه

د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د احکامو څخه د نه پیروي کولو په پایله کې کیدای شي دمالیې دوزارت، دعوایدو دلوی ریاست دمالیه ورکوونکو دمنښت په موخه تطبیقي او جزایي احکام تطبیق کړي ددغواحکامو د تطبیق واك پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون مطابق د مالیې وزارت، دعوایدو لوی ریاست ته ورکړل شوی دی. تطبیقي او جزایي احکام د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون په ۱۴ او

۱۲ فصلونو کې بیان شوي دي او اضافي مالیې او جریمې په برکې لري. کله چې نه منبت د مالیې څخه دتیښتې په موخه وي نو په هغه صورت کې شخص لوی څارنوالۍ ته دمحاکمې او پلټنو لپاره وړپیژندل کیږي.

## مالیاتي معلومات

په http://www.ard.gov.af کې دمالیه ورکوونکي دمعلوماتو پاڼه دمالیه ورکوونکي لپاره اسانتیا منځته راوړي چې دخپلو اړتیاؤ دپوره کولو په موخه ګټور معلومات لاسته راوړي. په دغه پاڼه کې مالیه ورکوونکی کولای شي د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې دمالیاتو قانون، بیلابیلې عامه خبرتیاوې او طرزالعملونه، فورمې اودهغوئ دبشپړولو لپاره لارښوونې، لارښودونه، ارشیف شوي سندونه، د موضوعي مالیې په هکله پوښتنې اوځوابونه او داسې نور ترلاسه کړي. همدارنګه په دغه بربښنا پاڼه کې پرعایداتو باندې دمالیاتو دقانون تعلیماتنامه هم شتون لري دغه تعلیماتنامه د اړوندو مقرراتو ترڅنګه د قانون هره ماده زیاتره وخت د کومکي بیلګو په مرسته، په جلا توګه تشریح کوي.

دمالیاتي فورمو، لارښودونو، نورو معلوماتو اومرستې لپاره تاسې کولای شي دمالیې وزارت، عوایدو لوی ریاست اویا دخپل سیمییز مستوفیت دفتر ته مراجعه وکړئ.

001E 01 03 2012

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مالیی وزارت
د عوایدو لوی ریاست
۱۳۹۱

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Finance
Afghanistan Revenue Department
1391
*www.ard.gov.af*

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست عمومی عواید
۱۳۹۱